حاجی محمد نوزادی ۲۰۱٤/۰۷/۲۱

# خالی لاس

لاندی شعر چی ستاسی ادبی برخی در ولیره :

زوی مـــي و پـوښـتـل چي پلاره
لــــبر خـبـر مي کړه لـه حالـه
تــــه لـه کـومـه يـی راغلـــی
چـــا پـه څــه يـې پيژنـدلـــی
څـــه کـمـال، څـه دي کـارونـه
چــي پــري و کـانـدم ويـاړونـه
شـــم به خوش چــي زوي د چايـم
چــــي هـمـزولـو کي دی ستايم

مــــا وې زوي د احـمــدخان يــم
او لـمسی د مـيـرويس خـان يـــم
لـــه دهلـــي تـر اصفــهــانــه
نــوم يــې پروت دی پـه ميرانــه
تــــه راواخلــه کـتـابـونــه
ســـه خـبـر پـه تـاريـخـونــه
دوي پـــــه تـــوره جنـگـيد لـه
غـلـيـمـان يـی ماتـولـــه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

زوی مـــي بـــيـــا وويـــل پـــلاره

پـــوه مـــي نه ســـوی ته له سوالـه

تـــه خـــپـــل ځـــان راتـــه وښـيـه

چـــي تـــه ويـــښ يي که ويـده يـه

پـــلار نـــيـــکـــه کيسي دي ډيـري

هـــغـــه تـولـــي دي اوس تـــيـــري

خـــپـــل پـــه کـومـو کـارو ويـــاړې

ښـــه دي کـــړي او ښـــه غـــواړې

هـک حـيـران سوم چي ښه يادکړم

په کـوم ويـاړ به مي زوي ښادکړم

زه بـــــه ښــــنــــگه ورتـــه وايـــم

چـــــي بـــی وســـه بـــيـــنـوا يـــم

ســـپـــيـنـه ورځ وه پـــه رڼا مـي

تـــيـــره تـــــــوره د بـــابـــا مـي

کـــــړه د وروړ پـــه زړه کي ماتـه

اوس خـــالـــی لاس يـــمـه پـــاتـه (*)

(*) ـ ددغه شعر مقطع د "درويش دُراني" د يوه غزل له مطلع سره په ورته والي راغلي ده.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ